# جنډوله: د پرتنګي د پوليسو په پوسته د ترهګريز بريد مخه ونيول شوه

د جنډولا ضلعې ټانک پوليس پوسټ پير تنګي باندې د ترهګرو بريد په شا وتمبول شو۔

په پوسته کې تعينات پوليس اهلکارو په ډير ميړانه او زړورتيا سره د ترهګرو سره مقابله وکړه چې په ترڅ کې يې د سيمې خلکو او پوځ د پوليسو سره پوره مرسته وکړه او ترهګر يې له کوم ځاني زيان پرته تيښتې ته اړ کړل۔

له لکی مروت وروسته په جنډوله کې هم خلک د ترهګرو پر ضد د پوليسو مرستې ته راوتلی چې دا د دې ثبوت دی چې پښتانه ولس ترهګری ردوی او پر ضد يې د امنيتی ادارو ترڅنګ ولاړ دی۔

انشاالله هغه وخت لرې نه دی چې ولس او امنيتي ادارې به په خيبر پښتونخوا کې د دايمي سولې په رامنځته کولو کې برياله شي او د خوارج له خوا خپره شوې دې فساد ته ماتې ورکړي۔